# ارواښاد ملنګ جان

## زموږ د هیواد خوږ ژبې، حماسي او اولسي شاعر

ما د ارواښاد ملنګ جان یو شمیر شعرونه د انځور په شکل ترتیب کړې دي ستاسو د ادب مینه والو پام ورته را اړوم .






# غزل

که په عشق کې مزې غواړې لوغړن لکه پتنګ شه

پس له مرګه به بنایسته شي سوداګر د نام و ننګ شه

که دې سر غواړې چې سر شي صدقه کړه سرناموس نه

که سرې شونډې د يار غواړې د خپل ځان په وينو رنګ شه

پخواني هم ستا په شان وو ته هم پاڅيږه همت کړه

حريت ليلى لپاره کند کچکول واخله ملنګ شه

ننګيالي چې يوځوا مخ کړي په شا نه ځي که پرې ومري

عزم ټينګ ساته په زړه کې خپل هدف ته په غورځنګ شه

که ترخي له ځينو اوري غوږ پرې کوڼ کړه((ملنګ جانه))

ويښوه ويده زلميان خپل، له نا اهلو نه په څنګ شه

# ملنګ شم

زه چـــــي راخـــــلـــمه کچکول او ستا ملنګ شم

نــــــوهــــــغـــــه ســــاعت به تېر تر نام وننګ شم

نــــام ونـــــنـــــګ بــــه وي هغه ځای رانه پاتې

بــــه کوم ځای کې چې زه ستا په تومت رنګ شم

پـــروا نــشــتــه کــه دنــيـــا راپـــوري خــاندي

مــــا شــــوم نه يم چې نور وخاندي زه تنګ شم

ســتـــا پــه عشق کې که ستي شمه په اور کې

فــــــخــــر کــــانـــــدم کــــه زه يـــاد لکه پتنګ شم

مــــا چــــي عزم ستا د سپين رخسار دی کړی

وابــــه نــــه ورم کــه په وينو کې رنګ رنګ شم

پــــه شــــا تــلـــل د مــيـــړنـيـــو بدنامي ده

اوس بــــه زه ((ملنګ جان)) څه رنګه په خنګ شم

شاعر: اروابناد ملنګ جان

ترتيب کوونکی: انجنيرعبدالقادر مسعود